SHARIAT WEEKLY

# شريعت

اوونيزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مركزي نشراتي ارگان

ځلورم كال يوه شپېتمه گڼه پرله پسې (۲۵۱) يكشنبه د ۱٤۲۰هـ ق كال د جمادى الاول (۱۱) د ۱۳۷۸هـ ش كال د زمرې دمياشتي (۳۱) د ۱۹۹۹ ميلادي كال د اگست (۲۲)

## الهي فرمان

عدل (انصاف) وكړئ تاسې !، همدا (عدل) ډېر نږدې دى تقوا (پرهيزگارى) ته.
(سورة المائدة)

## توجه!

ايمان شما اجازه نخواهد داد كه اوراق حامل چنين كلمات مقدس را بي حرمتي بگذاريد.

در ساحات تحت حاكميت مخالفين :

# نظام تعليم و تربيه و خدمات صحي كاملاً فلج گرديده است

شريعت : بنابر اظهارات شاهدان عيني كه اخيراً از ساحات تحت حاكميت مخالفين مهاجرت نموده اند گفته ميشود كه نظام تعليم و تربيه و عرضه خدمات صحي در آن مناطق كاملاً فلج گرديده است .

بنا بر قول مذكور تفنگداران مخالفين اموال و سامان الات شفاخانه ها و مكاتب را به يغما برده و تعمير تأسيسات مذكور را به قرار گاه هاي نظامي مبدل ساخته و به اعمار مواضع جنگي در آن جا ها مصروف مي باشند.

منبع مذكور علاوه مينمايد: پرسونل طبي و خدماتي شفاخانه چهاريكار و هيئت اداري و تدريسي يك دو باب مكتب آن شهر از مدت زيادي بدينسو وظايف شانرا ترك گفته و به مهاجرت تن در داده اند. گفته مي شود كه اطفال مناطق مذكور در نتيجه نظام تفنگداران مسعود از چند سال بدينسو از بهره علم و دانش محروم مانده و اهالي آن مناطق از ناحيه مشكلات صحي با پرابلم هاي زيادي دست و گريبان اند.

با توجه به اوضاع نا هنجار و زجر آفرين مناطق تحت حاكميت مليشه ها، جهانيان و خصوصاً آنهاييكه داد از حقوق بشر مي زنند، بايد به حال اطفال معصوم و مردم بي گناه آن مناطق به ديده الطاف نگريسته و حاكميت مليشه ها را به دليل اينكه اهالي بيگناه را به منظور دوام حيات ننگين خويش به ص ٤

د اطلاعاتو او كلتور وزارت سرپرست محترم ملا امير خان "متقي" د باختر د اطلاعاتي آژانس له خبريال سره په مركه كي :

# اسلامي امارت هيڅكله تنكي ځوانان په خپلو نظامي ليكو كې نه دي تنظيم كړي او نه يې تنظيموي

## د افغانستان اسلامي امارت خپل ټول اقدامات او كړه وړه د الهي "ج" حكمونو او محمدي غرا شريعت په رڼا كي تنظيم كړي دي

د ملگرو ملتو سازمان په دې وروستيو وختو كي د افغانستان د اسلامي امارت او د هغه د مخالفينو له خوا د جگړو جبهوته د هغو تنكيو ځوانانو د استولو په باب انديښنه څرگنده كړېده چي عمر يې له اتلسو كلونو څخه كم دي.

د باختر د اطلاعاتي آژانس اختصاصي خبريال په دې اړوند د اطلاعاتو او كلتور وزارت له سرپرست محترم ملا امير خان متقي سره يوه مركه كړي ده چي د يوې پوښتني په ځواب كي يې داسي ووېل :

د افغانستان اسلامي امارت دوغه امارت د جوړېدو له وخت نه تر اوسه پوري په سياسي نظامي او ټولنيزو برخو كي خپل ټول اقدامات او كړه وړه د الهي حكمونو او د محمدي غرا شريعت په رڼا كي تنظيم كړيدي او نورو ته يې د انديښني ځاى نه دى پرېښى.

خوله بده مرغه كله كله په بيلابيلو مواردو كي په اسلامي امارت باندي داسي تورونه لگول كيږي چي زموږ د ټولني اوسني واقعيتونه په بشپړه توگه تحريفوي.

عاليقدر امير المؤمنين د هغه ځانگړي فرمان په ترڅ كي چي ځلور كاله مخكي ۱۳۷٤ هجري لمريز كال د جوزا د مياشتي په (۱۱) نېټه كي د افغانستان د اسلامي امارت د نظامي او ملكي چارو د ټولو مسؤولينو په نامه صادر كړيدي ټول چارواكي يې دغو ټكو ته متوجه كړي .

د درنو طالبانو د اسلامي تحريك په نظامي ليكوكي د تنكيو ځوانانو شموليت او په نظامي قطعاتو كي د هغوي تنظيمول بېخي منع دي ان كه چيري له خپلو دوستانو او خپلوانو سره هم وي .

ځكه خپلولي نشي كوي ددي سبب شي چي تنكي ځوانان د دغو طالبانو د ٤ مخ

## د كنړ ولايت سپين ږيرو او مخورو د مخالفينو ناوړه عملونه وغندل

د كونړ ولايت سپين ږيرو او مخورو د مخالفينو د ناسمو عملونو غندلو په ترڅ كي د افغانستان د اسلامي امارت له هدفونو او ارزښتونو سره په خپل هر اړخيز ملاتړ باندي ټينگار وكړ .

د كونړ له ولايت نه د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راكړ په هغې كښته كي چي پرون د كونړ ولايت يو شمېر سپين ږيرو مخورو او جهاږي قوماندانانو د كونړ له والي محترم مولوي عبدالهادي اخندزاده سره لرله محترم مولوي سيد ولي الله حنيف محترم مولوي شاكر الله، محترم غلام الله وقار او محترم معلم عبدالوهاب د نورو په نمايندگي په وار سره د خپلو خبرو په ترڅ كي د مخالفينو د ناسمو او غير اسلامي عملونو د غندلو په ترڅ كي د افغانستان د اسلامي امارت له هدفونو او ارزښتونو سره په خپل هر اړخيز ملاتړ باندي ټينگار وكړ او زياته يې كړه چي تر وروستيو امكاناتو پوري د اسلامي نظام د ټينگښت په خاطر د اسلامي اردو له مجاهدينو سره اوږه په اوږه په ٤ مخ

## اعلاميه وزارت امور خارجه امارت اسلامي افغانستان در رابطه به سالروز حملات موشكي امريكا به خاك افغانستان

كابل ۲۱ اگست ۱۹۹۹ م مطابق ۱۰ جمادي الاول ۱٤۲۰ هـ ق

يك سال قبل در چنين روزي امريكا با حملات موشكي به خاك كشور ما چهره بسيار زشت از خويش در اذهان ملت مجاهد افغان به يادگار نهاد. مجريان اين تصميم امريكا با اين عمل خاطره نيك كمك هاي ملت امريكا با افغانها در دوران جهاد را در ذهن ملت ما ص ٤

## د تورخم او د هيواد د نورو ولايتونو تر مينځ تيلفوني مخابره فعاله شوه

د تيلفوني او تيلگرافي ارتباطاتو د تاسيسولو په برخه كي د اسلامي امارت د گټورو اقداماتو له مخي د تورخم او د هيواد د نورو ولايتونو تر منځ تيلفوني مخابره فعاله شوه .

يوه مسؤول خبر ځاي د باختر د اطلاعاتي آژانس خبريال ته ووېل د تورخم د مخابراتي سيستم به ٤ مخ

## د عامي روغتيا وزارت د التراساوند د كورس د فارغانو تصديق ليكونه ووېشل شول

د عامي روغتيا وزارت د التراساوند د كورس د فارغانو تصديق ليكونه پرون په آريانا هوتل كي د يوې غونډي په ترڅ كي ووېشل شول .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ دغه كورس چي څه موده مخكي د عامي روغتيا وزارت له خوا د اوولسو تنو روغتيايي پرسونل په گډون او د نړۍ د روغتيا يې سازمان په مالي او تخنيكي مرسته د جمهوريت په روغتون كي جوړ شوي و له ځلور ځلويښتو ورځو وروسته پايته ورسيد او د هغه د فارغانو تصديق ليكونه پرون د آريانا په هوټل كي د يوې غونډي په ترڅ كي ووېشل شول په دغې غونډه كي د عامي رغتيا وزارت سرپرست محترم الحاج ملا محمد عباس اخند د وينا په ترڅ كي د عامي روغتيا وزارت د داكترانو او كاركوونكو لپاره ددغه ٤ مخ

## كوريا بالاي طرح راكتي امريكا و جاپان انتقاد نمود

كشور كورياي شمالي از طرح دفاع راكت ايالات متحده امريكا و جاپان قوياً انتقاد به عمل آورد.

پيونگ يانگ طرح دفاع راكتي ايالات متحده امريكا و جاپان را طرح تخريب كننده و زيان آور در رابطه با تأمين صلح در منطقه آسيا و بحر الكاهل خوانده است .

كابينه جاپان طرح دفاع راكتي مذكور را سه ماه قبل به تصويب رسانده و اين طرح هفته گذشته ميان مقامات دو كشور در توكيو به امضاً رسيد.

## د كنړ ولايت د مانوكي په ولسوالي كي يو نوي سرك جوړ شو

د كونړ ولايت د مانوكي په ولسوالي كي د سلو كيلو مترو اوږدوالي يو نوي سرك جوړ او د ترافيكو د استفادي وړ وگرځيد.

باختر اطلاعاتي اژانس خبرراكړ ددغه سرك رجوړولو كار چي يو كال مخكي د كونړ ولايت د امارتي چارواكو په پاملرنه او د سيمي د خلكو په مالي مرسته ٤ مخ

## د پكتيكا ولايت په مركز كي د سترگو د نارغيو د علاج گرځنده كلينيك په كار پيل وكړ

شريعت : نړيوالي مرستندويه ټولني (آي.اي.ام) چي د نور له روغتون سره هم مرستي كوي په هيواد كي يې د سترگو د ناروغي د علاج لپاره خپل گرځنده فعاليت بيا پيل كړ .

د دوي دا فعاليت پرون د شنبي په ورځ د پكتيكا ولايت په مركز شرنه كي پيل شو دغه كلينيك د سترگو د ٤ مخ

## سه صدراعظم سابقه روسيه تصميم تشكيل يك ائتلاف جديد سياسي را گرفته اند

سه صدراعظم سابقه روسيه تصميم گرفته اند تا قبل از انتخابات عمومي پارلماني آنكشور در ماه دسامبر آينده تشكيل يك ائتلاف سياسي جديد را رسماً اعلام كنند.

سرگي استيپاشين ويكتور، چرنو مردين و سرگي پيري نوكوف تنگو پربروز در مورد اين مسأله به بحث پرداختند.

گزارشات خبري حاكي از آن است كه اين سه صدراعظم سابقه روسيه تشكيل ائتلاف سياسي جديد را روز شنبه اعلام خواهند داشت كه سرگي استيپاشين در رأس اين ائتلاف قرار خواهد داشت.

اين ائتلاف جديد با ائتلاف چپ ميانه و به رهبري يفگيني پريكاكوف صدراعظم پيشين و يوري جلوز كوف شاروال پر نفوذ مسكو در انتخابات به رقابت خواهد ص ٤

## په روسيه كي يوه شپاړس كلن هلك خپل پلار ووژه

په روسيه كي يو شپاړس كلن هلك وروسته له هغې چي خپل پلار يې د قصابي په چاقو باندي ووژه د هغه غوښه يې پخه كړه او په خپلو پيشو گانو يې وخوړله .

دغه هلك له نيولو وروسته پوليس ته ووېل د پلار د شراب خوړلو جواري او اخلاقي انحرافاتو له امله دا هلك د تل لپاره مست او بي سده و د مسكو د يوې ورځپاڼي د ٤ مخ

با تحكيم صلح و آرامش در كشور:

## تصدي سپين زر كندز مجدداً به فعاليت توليدي خويش آغاز نمود

با تحكيم امارت اسلامي و اعاده صلح و آرامش در صفحات شمال كشور تصدي سپين زر كندز مجدداً با فعاليت توليدي خويش در سه تايم آغاز نموده و در سال گذشته دو هزار و هشتاد و هفت تن پخته محلوج را پروسس نموده و در كمپاين امسال پروسس هفت هزار تن را در نظر داشته و در يك شبانه روز يكصد تن پخته محلوج را پروسس مينمايد.

اين مطلب را محترم مولوي عبدالقاهر عابد رئيس تصدي سپين زر طي ملاقاتي با محترم مولوي احمد جان سرپرست وزارت معادن و صنايع اظهار نموده و ضمن ارائه كار و فعاليت توليدي آن تصدي گفت: تصدي سپين زر كندز بمشابه بزرگترين تصدي توليدي كشور در سال ۱۳۱٤ در ولايت كندز ايجاد گرديده و با استقرار حاكميت امارت اسلامي در صفحات شمال كشور و اعاده صلح و ثبات در ولايت كندز مجدداً به فعاليت توليدي آغاز نموده و در يك شبانه روز بيش از يكصد تن پخته محلوج را پروسس مينمايد.

موصوف توجه هيئت رهبري وزارت معادن و صنايع سعي و تلاش بيش از پنجصد نفر كارگران و پرسونل آن تصدي در سال گذشته دو هزار و هشتاد و هفت تن پخته محلوج را پروسس نموده كه از جمله بيش از شش صد تن را به خارج صادر كرده و در نظر دارد در كمپاين امسال كه از ماه ميزان آغاز ميگردد هفت هزار تن پخته را پروسس نموده كه در سي در صد آن به فابريكات نساجي كشور تسليم داده و هفتاد در صد آن را بخارج صادر مي نمايد.

محترم مولوي عبدالقاهر عابد در رابطه به فعاليت هاي كنوني و بعدي آن تصدي طي صحبتي به ص ٤

## سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

## په افغانستان د امريكا د راكټي حملي د لومړي تلين په مناسبت څو يادوني

پرون د افغانستان په سپېڅلي حريم باندي د امريكا د كروز توغنديو د بي رحمانه اوړولو لومړي تلين وو او د افغانستان د اسلامي امارت د لوړو مقاماتو ، ملكي، نظامي او عامو خلكو په هيواد كي د ننه او له هيوا څخه بهر افغاني مطبوعاتو او مهاجرو افغانانو لخوا يو ځل بيا د بيلا بيلو بيانونو او اعلاميو په ترڅ كي د امريكا دا ناځوانمردانه عمل د تير كال په څير په يو غږ وغندل شو كه د افغانستان د جهاد نږدي تاريخ ته وگورو نو وينو چي كله چي افغانانو د روسانو په ضد په وسله وال جهاد پيل وكړ نو امريكا په دې خاطر چي قهرمانو ٢ مخ

# شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسوول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : ملیار «کاکړ»
دیوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤-۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه


## د سرمقالي پاتي برخه

افغانانو د نړۍ یو لوي ځواك ته ماتي ورکړي او متحده ایالات بې هم له شر څخه خلاص شي نو له افغان مجاهدینو سره یې هر راز مرستې پیل کړې او افغان مجاهدین او د نړۍ ټول هغه مسلمانان بې چي له افغانانو سره یه اوږه په اوږه د روسانو په ضد جنګیدل اتلان او د نړۍ قهرمانان وبلل خو کله یې چي خپل غرض تر سره شوي ولید او د افغانانو په لاس سور ښامار ټوټې ټوټې شو ، په افغانستان کي د سوچه اسلامي نظام وزمې په خپریدلو شوي نو سمدستي بې خپل دریځ معکوس او د افغانستان د اسلامي جهاد د تقدس په داغداره کولو پسي بې راواخسته او د جهاد د بدنامولو لپاره بې ډیري هڅي هم وکړي چي متاسفانه د مجاهدینو په جامه کي د تیرو ائتلافي ډلګیو په استخدام سره تر ډیره حده په خپل دې شوم غرض کي بریالي هم شول، خو الحمد لله طالبانو د سر او ویني په بدل اسلام ، شریعت او افغانستان ته نجات ورکړ، او د امریکا په شمول د ډیرو کفري هیوادونو هیلي او غوښتي بې له خاورو سره خاوري کړي د روسانو له ماتي وروسته د امریکا کړو وړو، افغانان ددې هیواد په اړه له یو ډول تشویش او شك سره مخ کړي وو خو په افغانستان باندې ددوي د کروز توغندیو برید سره ثابته شوه چي امریکا هیڅ ډول انساني همدردي نه درلوده بلکه د خپل مطلب لپاره بې باري کوله، د امریکادي اقدام یواځي افغانان نه بلکه د ټولي نړۍ خلك له ډول ډول اندیښنو سره مخ کړل څکه هغوي پوه شول چي امریکا اوس خپل ځان په نړۍ کي یکه تاز ویني او همداسي به د هر مظلوم ولس او هیواده ویشتلو او ځورولو لپاره پلمي لټوي او غټ ثبوت بې هم همدا دي چي امریکا چي د هغه غیور او سر ښندونکي ولس احسان نه مني چي دوي بې له یو ستر او ښکاره خطر څخه وژغورل او د دوي محسنين ګڼل کیږي نو د بل چا پروا به څه وکړي رښتیا خبره دا ده چي د امریکا لخوا د افغانستان د ویشتلو لپاره د اسامه عنوانول هسي یوه پلمه وه، که نه نو آیا د اسامه د مجرم ګڼلو لپاره له امریکا سره څه ثبوت او شواهد شته دي ؟ د نړۍ کومي محکمي اسامه مجرم ګڼلي دي ؟ دا چي امریکا اسامه تر ورست معرفي کوي نو ایا له دې څخه لوي تر وریزم به بل کوم وي چي د یو خپلواك ازاد خو کړیدلي، جنګ ځپلي او ځوریدلي هیواد په حریم دې بې ګناه ، او بې کوم سنده د کروز توغندیو حمله وشي، آیا دا تروریزم نه دي چي د ښځو، کوچنیانو او سپین ږیرو په شمول دې زمونږ له دوه سوه څخه ډیر هیواد وال بې له کوم جرم او بې له کومي دعوي څخه په شهادت ورسول شي؟ که د اسامه په اړه ډیر څه ومنل شي نو هغه به د اسامه د اتهام مسئله وي نو ایا په تش اتهام باندې نړۍ د کوم قانون په اساس د افغانستان ویشتل او د دوه سوه و څخه ډیرو افغانانو وژل امریکا ته مجاز دي ، آیا دا په خپله د تروریزم او سپین سترګي انتهام‌نده ؟د افغانستان د اسلامي امارت مقاماتو څو څو ځله ویلي دي مونږ به د اسامه په شمول هیچا ته اجازه ور نه کړو چي د افغانستان لـه خاوري د چا په ضد تخریبي عملیات تر سره کړي او دا چي مونږ د اسامه په اړه له هر چا سره مذاکراتو او تفاهم ته چمتو یو او څوك چي په اسامه کومه دعوه لري نو لـه خپل ثبوت او شواهدو سره دي د افغانستان ستري محکمي ته عارض شي ، نو له دي اعلان وروسته به بیا هم د امریکا دړکي سپین سترګي او متکبرانه چلند نه وي ؟

اوس د مطبوعاتو په مخ داسي خبرونه لیدل کیږي چي امریکا غواړي یو ځل بیا افغانستان تر خپل نظامي هجوم لاندي راولي او حملي پري وکړي نو د امریکا له ملت څخه زمونږ هیله دا ده چي د خپلو عاقبت نه سنجوونکو او خپل سره مشرانو واګي ونیسي. او پرینږدي چي امریکا هم په افغانستان کي د انګریزانو او روسانو له برخلیك سره مخ شي زمونږ دریځ دا دي چي امریکا باید تیره غلطي بیا تکرار نه کړي که نه دا اقدام به ډیر ناوړه عواقب ولري .

د نړۍ په هر ګوټ کي به مسلمانان د امریکا په ګتهو او افرادو حملي وکړي او په خپل لاس به په امریکایانو خوب حرام کړي نبه دا ده چي ټــولي ستونزې د خبرو اترو او تفاهم له لاري حل شي.

## که له زلمو نه پوره نشوا ...

## د زړه خواله

ابو احمد «مهاجر»

د منځني ختیځ د یوي معتبري ورځپاڼي په حواله د متحده ایالاتو دولس مشر بل کلنټن میرمني «هیلري کلنټن» ویلي چي د راتلونکي ۲۰۰۰ میلادي کال لپاره ضروري ده چي د متحده ایالاتو سفارت له تله ابیب نه بیت المقدس ښارګوټي ته انتقال شي.

«هیلري کلنټن» پدي منظور بیت المقدس ته د امریکایي سفارت د انتقال خبره کوي چي په امریکې کي د میشتو یهودي الاصله امریکایانو ملاتړ او رضایت تر لاسه کړي . هغه غواړي چي په راتلونکي کال کي د نیویارك دایالت په انتخاباتو کي د سنا دمجلس غړیتوب ته ځان کاندید کړي او دا ورته لازمه ده چي مخکي تر مخکي پدي اړه د هغه ځاي د یهودانو بشپړه همکاري له ځانه سره ولري .

د «هیلري کلنټن» ددغو څرګندونو په اړه په عربي او اسلامي نړۍ کي هیڅوا هم غبرګون‌نه‌ښود. مګر یواځني شخص چي د «هیلري کلنټن» دا څرګندوني یې ردي کړي هغه «سُها عرفات»د فلسطین د ازادي ښبنونکي غورځنګ د مشر یاسر عرفات میرمن ده ،

«سُها» عرفاتچه خښهه عربه خو په عقیدوي لحاظ عیسوي ده او له دي سره سره خپله د ښاغلي عرفات په وینا له څلورو میاشتو را پدي خوا له یاسر عرفات نه لري په بهرنیو ملکونه کي له خپلي دري کلني لور سره د یواځي توب شپي سبا کوي. هغي د مسافرت له دیار نه د «هیلري کلنټن» د خبري په ځواب کي وویل چي بیت المقدس د فلسطینیانو ځانګړې ټاټوبی او هیڅانه به اجازه ورنکړي چي هغه تر خپلي ولکي لاندي راولي .

دلته اصلاً خبره د «هیلري کلنټن» او «سُها» په جرأت کي ده هغه جرأت چي هغه په فطري لحاظ د تاریخ او خاصه دي خو نن د نړۍ یوه ملیارد مسلمانانو دغه جرأت بایللی او په خولو یي د سکوت مهر لګولی تر څو د هغوي په ځاي «سُها» د «هیلري کلنټن» **د جرأت ځواب ووایي. او ضروري ده چي «سُها»** په دا ځواب واي څکه عربي متل دي «چي کله تارینه پټه خوله شي ښځینه به ځواب وایي»

په هر صورت خبره بیت المقدس ته د امریکایي سفارت په انتقال کي ده هغه بیت المقدس چي په هغه کي د نړۍ د مسلمانانو لومړي قبله مسجد اقصی واقع دي له همدي مسجد نه د مسلمانانو ستر پیشوا معراج ته تللی او په همدي مسجد کي د ټولو انبیاؤ «ع» امامت کړي .

هغه په لومړي ځل حضرت عمر فاروق له مسیحیانو څخه ازاد کړي ، بیا حضرت صلاح الدین ایوبی له صلیبیانو څخه د توري په زور ګټلي اوس بیا د یهودانو تر تقریبي تسلط لاندي د څوارلسمي هجري پېړۍ له مسلمانانو څخه د ازادي هیله لري . خو له بده مرغه چي مسلمانان په خپل منځي ستونزو کي داسي رابنکیل دي چي په ځاي ئي «سُها» د قدس د اشغالګرانو خبري ځوابوي که څه هم خبره تر دي سرحده هم نده خرابه چي د نړۍ په ټولو مسلمانانو داسي ابو رغبتلي چي له دومره ډیر والي سره سره اقلاً د چا د خبري او هغه هم د ... د خبري د ځواب ندي.

خبره ټوله په قیادتونو کي ده هغه قیادتو چي په نومونو او القابو اخستلو یې د چا په اصطلاح سړي سټري کیږي خو د عمل په میدان کي ځاي «سُها» ته پریږدي. هو که هغوي ډیر دي خو ډیروالي یې د حضرت رسول اکرم د وینا له مخي د سیل د ځګ په څیر دي چي نه دروند والي لري او نه ښه والي. همدا لامل دي چي نن هغه وياړونه چي زمونږ اسلامي قهرمانانو د سر په بیه راته ګټلي و بو به بل پسي له لاسه را څخه ځي هره ګړی د مسلمانانو د بد حالت خبري اورو . کله د ټول فلسطین د لاندي کیدو ماتم اورو، کله د کاسوا د مسلمانانو په ډیر ژاړو او کله هم د ښکلي کشمیر د سوځیدلو تماشاچیان یو او کله هم ...

په اسلامي نړۍ کي د قیادتونو په کچه داسي څوك نشته چي حساب ورباندي وشي نو هرو مرو خبره پدي شوله کیږي چي «سُها» په شاني ښځي به د نړۍ د مسلمانانو مدافعان پیژندل کیږي.

که له زلمونه پوره ...

## د دولتونو په رسمیت پیژندل : اونړیوال، اصول، پرنسیپونه او قاعدې

د ناصر شاه سرحدي ژباړه

په عمومي بین المللي حقوقو کښې د دولتونو او حکومتونو د پیژندنې په باره کښې کومه ځانګړې قاعده نشته ، هغه څه چې د پیژندنې په مفهوم راغلي یو د بل په مقابل کې د دولتونو عملي تګ لاره او روش دی، یو ایرانی لیکوال محمد رضا بیګدلی پیژندل داسې تعریف کړیدی : « پیژندګلوی یو ځانګړی روش او تشریفات دی چې نن ورځ یې په نړیوالو اړیکو کې رواج موندلی او هغه د یو نوی جوړ شوی دولت په رسمیت پیژندل د پخوانیو دولتونو له خوا دی ، » د کابل پوهنتون د حقوقو د پوهنځي یو استاد پیژندل د یو اړخیزه حقوقي معلوماتو تر سرلیک لاندې داسې تشریح کوي : « هر کله که یو حالت او یا یو ټاکلی ادعا دیو هیواد له پلوه وپیژندل شي ، پیژندل یې په حقوقي مفهوم سره تحقق موندلی لکه د یو حکومت پیژندل ، د یو دولت پیژندل او نورو پیژندل . پورتني تعریفونه چې د نړیوالو حقوق پوهانو له خوا شویدي دا نتیجه په لاس راځي چې په رسمیت پیژندل د یو دولت یو اړخیزه حقوقي « اکټ » دی چې د هغې پواسطه د پیژندنې خوا د یو مستقل دولت په توګه یعنې د نړیوال بشپړ حقوقي شخصیت په توګه پیژني او د هغه سره په بشپړ ډول دیپلوماتیکي اړیکې ټینګوي چې دا مطلب د اروپا په «بروکسل» کې د نړیوالي حقوقي موسسې له خوا د ۱۳۳٦ میلادي کال په غونډه کې منل شویدی او په هغې کې یې پیژندل داسې تعریف کړیدی « پیژندل داسې یو عمل دی چې د هغې پواسطه پخوانې دولتونه د یوې نوې سیاسي ټولنې وجود د عمومي بین المللي حقوقو په رعایت کولو سره ، تصدیق او منل کیږي او په نتیجه کې خپله اراده او پریکړه د هغې د پیژندلو په باره کې د یوې نړیوالي ټولنې د غړي په توګه اعلاموي »

**د حکومت پیژندل :**

کله چې یو دولت یا حکومت نوی رامنځ ته کیږي ، مخکې یا په هماغه مهال کې په رسمیت پیژندل کیږي لکه په ۱۹٦۲ میلادي کال کې د الجزایر د حکومت پیژندل د یو خپلواک دولت په توګه ، چې دا ډول پیښې په تاریخ کې ډېرې لږې پیښیږي ، په تاریخ کې داسې حکومتونه ، د تبعید ، د هیواد او ځمکې د اشغال په حال کې حکومتونه او د هیواد څخه لرې ، جلا وطن حکومتونه وجود لري ، لکه د پولېند ، چکوسلواکیا ، ناروې او هالېند حکومتونو په رسمیت پیژندل چې لندن ته په مهاجرت کې جوړ شوي ، او د دوهم نړیوال جنګ په دوران کې د المانیانو له خوا نیول شوي و . د دولتونو او حکومتونو د رسمیت پیژندنې ، اصول او پرنسیپونو په باره کې دوه نوری مشهوری نظریې وجود لري چې د توبار او ایسترادا د دوکتورینو په نوم یادیږي .

لومړی د توبار نظریه : دا کــوادور ، د بهرنیو چارو وزیر توبار په دې عقیده و چې یو نوی تاسیس شوی حکومت که د کودتا او یا اوښتون له لارې وا ک ته رسیدلی وي باید په رسمیت ونه پیژندل شي ځکه هغه د خپل هیواد د اساسي قانون پر خلاف را منځ ته شوی دی او مشروعیت نه لري یعنې هغه حکومتونه چې وا ک یې مشروعیت ولري باید په رسمیت وپیژندل شي ، د نوموړي مفکوري دوکتورین د مشروعیت د دوکتورینو په نوم یادیږي ، ددې نظریې په پیروۍ ۱۹۰۷ میلادي کال د دسامبر په ۲۰ مه د مرکزي امریکا پنځه هیوادونه ، کوزیکو ، ګواتیمالا ، هندو راس ، نیکاراګوا ، سلوادور یو تړون لاسلیک کړ چې نوی تاسیس شوی حکومتونه د خپلو هیوادونو د اساسي قانون پر خلاف دې ځکه یې په رسمیت نه پیژني .

**د ایسترادا نظریه :**

د مکزیک د بهرنیو چارو وزیر ، ایسترادا د خپل حکومت په نمایندګي ، د ارجنټاین ، برازیل ، پیرو ، چیلي ، بولوی او پاناما د انقلابي حکومتونو د ۱۹۳۰ او ۱۹۳۱ میلادي کلونو د پیژندلو په باره کې خپل نظر د اعلامیې په بڼه ښکاره کړ چې د ایسترادا د مفکوري او د واقعیت په دوکتورینو مشهور دی . دا نظریه د توبار د نظریې ضد ایسترادا اعلام کړه چې د حکومتونو مشروعیت او یا نه مشروعیت او په دې باره کې تحقیق په نورو هیوادونو پورې اړه نه لري او دا موضوع د هیوادونو خپله داخلي موضوع ده په واقعیت کې دولتونه موجوده واقعیت په رسمیت پیژني او هغه د یو خواکمن ، مقتدر او حاکمیت لرونکي حکومت موجودیت دی نن ورځ د نړۍ بیلا ، بیل هیوادونه د خپلو سیاسي او ایدیالوژیکي تمایلاتو له مخې په **ټاکلو شرایطو کې د دواړو نظریو نه پیروي کوي .**

**د پیژندلو ډولونه :**

د دولتونو او حکومتونو په رسمیت پیژندل د حاکمه بین المللي **حقوقو د تمایل پر اساس په دوو ډولونو** صورت نیسي لومړی دیژور DEJURE پیژندل او دوهم دی فکتو DEFACTTO پیژندل .

دیژور پیژندل : یعنې همیشني بشپړ او هر اړخیزه پیژندل چې بېرته ، نه اخستل کیږي یوازې هغه وخت له منځه ځي چې پیژندل شوی دولت او یا حکومت له منځه لاړ شي ، ددې ډول پیژندنې په بنسټ دیپلوماتیکي او ، نوری اړیکې د هیوادونو تر منځ ټینګیږي .

۲ - د دی فکتور پیژندل : دا یو موقتي نا بشپړ په رسمیت پیژندل دی چې هر وخت بېرته اخستل کیږي ددې فکتور په پیژندنه کې یوازې یوه برخه اړیکې د پیژندل شوي او پیژندونکي تر منځ ټینګیږي لکه : د فرانسې هیواد چې د فنلند حکومت یې ددې فکتور په شکل وپیژاند او یا د امریکا متحده ایالات او انګلستان د اسرائیلو دی فکتو پیژندل په ۱۹٤۸ میلادي کال کې و چې وروسته بیا په دیژور پیژندنې باندې بدل شول چې په دې ډول پیژندنه کې د دولتونو سیاسي رول ډیر زیات لیدل کیږي .

**د رسمیت پیژنې بڼه :**

د یو دولت او یا حکومت په رسمیت پیژندل که د یژوري وي او که دی فکتور وي په **دوه بڼو عملي کیږي لومړی د واضح په بڼه : Express** او یا په ضمني بڼه Tacitalimplide

**په واضح ډول پیژندل :**

دا ډول پیژندل هغه دی چې په واضحه توګه د یوې اعلامیې په ترڅ کې اعلان شي یا د یادداشتونو او تبادلې په صورت د دواړو خواو نه د یو تړون او قرارداد پواسطه لاسلیک شي .

**ضمني پیژندل :**

دا هغه پیژندل دي چې واضح نه وي اعلام شوي او یا د پورتنیو وسایلو ، نه یې استفاده نه وي شــوی بلکې پرته د پیــژندنې یو لړ دیپلوماتیکي اړیکې د پیژندونکي هیواد او یا طرف نه ټینګي . لکه د نوي قونسلګرۍ جوړیدل او یا د دواړو خـــواونه یو تجارتي او یا یو اقتصادي تړون په نا اعلام شوي ډول لاسلیک کیږي . د نړیوالو اړیکو په تاریخ کې د چریکي او یا اغتشاشي ډلو او یا ازادي بخښونکو سازمانونو په رسمیت پیژندل هم رواج شوي ، او هغوي ته په بین المللي حقوقو کښې په فسمي ډول شخصیت بخښل کیږي .

د افغانستان اسلامي امارت د یو تاریخي واقعیت په توګه چې د هیواد د مسلمان ملت د ټول نفوس ملاتړ ورسره دی او هم د هیواد په سلو کې ۹۰ فیصده قلمرو بشپړ **حاکمیت لري د یو مستقل او خپلواک دولت د متشکله عناصرو غوره بیلګې دي چې په بین المللي عمومي حقوقو کي ورته مستقل شخصیت او مشروعیت بخښي نو د** نړیوالو ، اصولو ، او پرنسیپونو پر اساس د بل هر وخت څخه ددې جوګه دي چې په نړیواله سطحه په رسمیت وپیژندل او په دې توګه د افغانستان اسلامي امارت په خپل مستقل برخلیک **حاکم شي.**

## صداي وطن

عبدالرقيب «جهيد»

بشنويد مـــزمنان صـــداي وطن
شـــــويد يك پيكر از براي وطن
ســــرد ســـــازيم شــــراره هاي نفـــــاق
وحـــــدت و باهمي بقـــــاي وطن
بر كنيم تارو پود اســــتعــــمـــــار
مــــــصلحت ها كنيم فــــداي وطن
نيــــست بيگانه كس درين كـــشــــور
همــــــــه داريم ســــــرِ هواي وطن
مــــايه ي فــــخـــر جــــمله اقــــوام است
بر فـــــــــرازيدنِ لـــواي وطن
تفــــــرقـــــه رنگ و بو نژاد و زبان
نيــــست مــــقـــبــــول و همنواي وطن
مـــامِ مـــيـــهن به گـــريه مـــيگويد
نيـــست جـــور و جـــفـــا ســـزاي وطن
باز ســـــازيم تمـــدن و فـــــرهنگ
عــــلـــم و دانــــش بـــود غــــنـــاي وطن
رسم خـــوشـــبـــخـــتي و ســـعـــادت را
افگنيم طرح اعـــــتــــــلاي وطن
بنشـــــانيم نهـــــال صلح و صـــــفـــــا
در چمـــنزار خـــــوش لقــــــاي وطن
كـــرد انشـــا، «جـــهـــيـــد» اين گـــفـــتـــار
همـــــــزمــــــان پاسخ نداي وطن

## د ملالی ناره

عطا محمد «یاري»

او ما لیدل چې د پامیر او هندوکش سرونو
په خپلو دنګو غاړو
د تورو تورو وریځو
د اسارت کړی منلی نشوای
او ما لیدل چې د ګوربتو بچی
د لوړ تکل په هیله
پاس په هوا ښکاریدل
او د شنو زمریانو بچی
د سر درو له څوکو
د مور په بوه اسویلی
د هسک رنګین ماښام ته وغوریدل ...
او
هلته د کلی په کوچنی میدان کی
د اور لمبی د توری شپی زړه څیره
واړه، زاړه او زلمی
سبا د ننګ لپاره
وو راټول شوی هلته
او بو بابا یی وپه منځ کی ولاړ
او ما لیدل چې د سپیدو رڼا کی
د کلی تولی لاری د کی شولی
د وچ لانبه په لوری
د آزادی قافلی وخوځیدی
او مالیدل چې د غرمی تکندی
دوزخ و ګرم د جزا دښته کی
ازمون شو پیل د غیرت او حساب
او د بابا پلاس جنډه خوځیده ...
سخته سیالی شوه د چکمک او توپو
مقابله شوه د پیاده او سپرو

او ما لیدل چې د لاټپو څوکی
د تورو منځ کی ښوریدلی دنګی ...
بوه خبره د پښتو وه منځ کی
چې د بابا زامنو
په خپلو وینو د میری بوټی رنګین کړل
او ما لیدل چې هلته
بوه تپی زلمی ته
د ازادی ناوی اوبه بیلی
او د لوخړو منځ ته
بوه ناره شوه پورته
چې بابا هم ولګید...
پیغله سر توره را اوچته شوله
او د بابا په لور یی منډه وکړه
ژی تری ګوزار شو هلته
او په او بو یی لوی میوند کړی خپلی شونډی لندی
...

* * *

او ما لیدل چې د ناړو هیبت کی
په دښته خمکه او اسمان لړزیدل
بیا می کتل چې د ننګونو بیرغ
پاس په هوا رپیده
او د ملالی په لاسو
د هسک په سترګو کی اغزی اغزی شو ...

* * *

هلته په خوا کی یی سپین ږیری بابا
د خوښی اوښکو کی دا ټکی کول
څو می د تن وینه په قام کی خوځی
د ازادی شمله به ټیټه نشی
څو چې لا یو افغان بچی دلته وی
د ملالی ناره به هیره نه کړی ...

## د شعر او ادب لړۍ

## شور تو

عصمت الله «معروف»

زلف تو هزار حلقه یکجا کـردست — نقاش ازل نقش تو پیـدا کـردست
غارت گر دلهاي جهان گشته بي تو — عالم همه را عشق تو شیدا کردست
دلها همه در خدمت ابروي تو ماند — داغ تو به سینه هاي ما جا کـردست
رخـسار ترا کـه مـاه و گل بنده بود — صـورت گـر تو رخ تو زیبا کـردست
قدت چو صنوبر آفـریده است بلند — پامیـر تو ملك چین تماشا کردست
از گـوهر آفـتـاب رخـشـنده تري — خوبروي جهان و ملك دنیا کـردست
هر کـس اگـر به چشم بد دید ترا — آن کس کـه تو آفریده رسوا کـردست

«معروف»چنان عاشق زار تو مپرس
شوري تو بین محشري بر پا کردست

د افغانستان د خپلواکۍ بیرته اخستلو د (۸۰) یمی کلیزی په مناسبت د چارو عمومی اداری مرستیال محترم ملا محمد حسین مستسعد بیانیه

نیټه ۸/۵/۱۴۲۰ هجری قمری ۲۸/۵/۱۳۷۸ هجری شمسی کابل - افغانستان

# د افغانستان د خپلواکی په ګټلو کی د علماو لارښونه او د هغوی اثرات

قدرمنو لوستونکو! څرنګه چې خبر یاست تیره پنجشنبې د زمری د میاشتې اته ویشتمه له انګریزی ښکیلاک څخه د هواد د خپلواکی د لاسته راوړلو له اتیایمی کلیزی سره برابره وه، د افغانستان د اسلامی امارت د چارو د اداری لوی ریاست دغه ښکمرغه ورځ د کانټینینټال هوټل په تالار کی د یوی پرتمینی غونډی په ترڅ کی ونمانځله، په دی ستره غونډه کی د چارو د اداری مرستیال محترم ملا محمد حسین مستسعد هم یوه ارزښتناکه وینا حاضرینو ته اوروله چې د **موضوع د اهمیت له کبله د نوموړی وینا متن کټ مټ ستاسی درانه حضور ته وړاندی کوو.**

د افغانستان د خپلواکی د اتیایمی کلیزی په ویاړ د رابلل شوی غونډی درنو حاضرینو د اسلامی امارت محترمو لوړ رتبه منسوبینو د سنګر تکړه مجاهدو طالبانو ورونو ښاغلیو خارجی میلمنو او ددی غونډی محترمو ګډونکونکو!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

د موضوع په ارتباط ما هم هڅه کړی چی خپله مقاله په کوتا ډول د خپلواکی د بیرته اخیستلو په مبارزه کی د افغانستان د علماو روحانیونو او مشایخو د جهاد، مبارزی، حسن تدبیر او قربانیو یادونه وکړم. په دی کی شک نشته چی د افغانستان ږیرنی او غیور اولس هر وخت او په هره مرحله کی د هیواد او خاوری د خپلواکی، او ساتنی لپاره قربانی ورکړی او په هره پلابی متجاوزین، چی زموږ پر پاکه او اسلامی خاوره یی تیری کړی له افغانستان څخه شړلی دی او ددی دفاع او میړانی هری مرحلی ته یی غزا او جهاد ویلی، او په دی نامه یی قربانی ورکړی دی.

څرنګه چی جهاد او غزا دواړه د اسلام په سپیڅلی دین کی ډیر ستر عبادت دی نو په دی اساس لکه څنګه چی معمول ده چی په هر وخت کی د عباداتو په حصه کی علماو زموږ لارښوونه او رهبری کړی ده نو د جهادونو او غزاو په برخه کی هم د هر وخت لپاره علماو د دی غیور او میړنی ملت رهبری او لارښونه کړی ده.

که چیری موږ لږ څه خپل تاریخ ته ځیر شو نو هره هغه جګړه چی علماو یی سرپرستی او لارښونه نه کوله کومی ښی او ګټوری نتیجی ته نه ده رسیدلی.

او پای یی په بدبختیو او ظلم نتیجی ته رسیدلی ده خو دا تاریخی حقیقت هم باید ومنو د هغه شاعر په خبره چی وایی:

مراد ردیست اندر دل اگر گویم زبان سوزد
اگر دم در کشم ترسم که مغز استخوان سوزد

متاسفانه زموږ معاصر تاریخ داسی لیکل شوی چی یا خویی د وخت د حاکمانو د خوشحالتیا په خاطر او یا د خپلو شخصی افکارو په خاطر په ډیره بی انصافی زموږ د تاریخ و ډیرو قهرمانانو ته مناسب ځای نه دی ورکړی، او په ډیره ناځوانی یی سترګی پری پټی کړی دی دا ظلم په زیاته پیمانه زموږ د هیواد د علماو او دینی مشرانو په برخه کی تر سره شوی دی. او ډیره د غم خبره خو لا دا ده چی زموږ د هیواد له قلمه پاتی خلکو خپلی ټولی خاطری له ځان سره یو وړی او زموږ لیکوالی طبقی په داسی وخت ګی قلم پورته کړ چی هغوی ته د ماخذ لپاره بوازی خارجی منابع په لاس ورغلل چی اکثره زموږ د دښمنانو لخوا لیکل شوی او دوی یی هم په پټو سترګو تقلید وکړ. یوه لویه غمیزه لا دا رامینځ ته شوه چی په داړوستیو څلورو لسیزو کی زموږ زیات شمیر تاریخ لیکونکو خپل تاریخونه د کمونیزم تاریخ لیکنی په عینکو کی ولیکل او د کمونستانو هغه تیوری چی د اولسونو د مفاخرو او قهرمانانو د له مینځه وړلو په برخه کی یی لرله عملی کړی ده خو د رسول کریم «ص» د دی وینا په بنا چی فرمایی: (من لم یشکر الناس ...) چا چی د انسانانو شکر نه کړ ادا هغه د خدای «ج» شکر نه دی ادا کړی موږ د خپلو بو شمیر هغو لیکوالو شکر باید د زړه له کومی ادا کړو چی پر زړه یی زور کړی او یا یی د خپل اسلامی او ملی احساس له مخی حقایق لیکلی او د خپل ملت یی خدمت کړی ده.

د افغانستان په دفاع او ملی مجاهدو کی په مجموعی ډول په هر وخت کی علماو د افغانستان د میړنی او غیور اولس رهبری او لارښونه کړی ده که موږ خپل تاریخی بهیر ته ځیر شو نو دا به ثابته شی چی زموږ د هیواد په ټولو سیاسی، اجتماعی او جهادی ساحو کی علماء ستر ستر کردارونه لری د محمد شهاب الدین غوری «رح» څخه را نیولی بیا د احمد شاه بابا تر لویی امپراطوری پوری علماء زموږ د میړنی اولس په مخکی روان او د جهاد بیرغونه په لاس د هند لویی وچی او شاخوا سیمو ته ورغلی. او د اسلام سپیڅلی دین ته یی دعوت او تبلیغ کړی دی. د هند لوی اسلامی مشاهیر. لکه خواجه معین الدین چشتی اجمیری «رح» مجدد الف ثانی «رح»، علی هجویری «رح» او په سلهاو نور مشاهیر، د همدی خاوری بچیان دی، او یوازی معین الدین چشتی اجمیری «رح» په خپل مبارک لاس ۹ نه ملیونه خلک د اسلام مقدس دین ته داخل کړی او له کفره یی ایستلی دی دغه ډول نور علما، په زرهاو داسی کارنامی لري چی تر اوسه پوری زموږ اسلامی نړی فخر وریاندی کوی او همدا راز په معاصر افغانستان کی زموږ د علماو زیاتی کارنامی تاریخونو ثبت کړی دی.

زموږ ملی مشران لکه میرویس نیکه، احمد شاه بابا او نورو مشاهیرو یو کار هم د علماو د فتوی او مشوری پرته نه کاوه او همدا وجه ده چی نوموړی دواړه مشران زموږ په تاریخ او خلکو کی د خپلو ښو کارنامو په وجه ستر ځای لری.

کله چی د احمد شاه بابا د لمسیانو او کړوسیانو د اختلافاتو او وروسته د بارکزو سردارانو د بی اتفاقی په سبب د افغانانو د قدرت ساحه را کمه شوه او په عین وخت کی انګلیسی استعمار او تزاری روسیی د افغانستان خوا ته چی اوس نو کمزوری او د داخلی اختلافاتو باچا ګرد یو په وجه یی خپل مرکزیت له لاسه ورکړی و د هوس سترګی غړول شروع کړل په هغه وخت کی هم زموږ علماو او مشاهیرو د انګریزانو د نفوذ د مخنیوی لپاره زموږ غیرتی او مجاهد اولس بیدار او ه.

د افغانستان او انګلیسانو په لومړی جهاد کی زیات شمیر علماو او طالبانو له ملی مجاهدینو سره یو ځای د انګریزانو په مقابل کی خپلی سینی سپر کړی او د انګریزانو قوځونو ته یی زیات تاوانونه ور واړول دغه راز د غازی عبدالله خان اڅکزی، نایب امین الله خان لوګری، وزیر محمد اکبر خان غازی په قیام کی له نورو ډیرو علماو سره د ملا مومن غلجی نوم هم زموږ په تاریخ کی په زړه پوری ځای لری کله چی انګریزانو امیر یعقوب خان په خپله سلطه کی د افغانستان پر تخت موزون و نه یاله نو هغه یی تبعید کړ.

پاتی لری

## اسلامي امارت هیڅکله تنکي ځوانان په خپلو ...

اسلامي تحریک په نظامي لیکوکي دنده ترسره کړي.

همدارنګه لاربښوونه شویده چي دغه تنکي ځوانان د ښوونې او روزنې لپاره مدرسو ته ور وپیږندل شي چي په راتلونکي کي علمي زیرمه ولرو.

محترم منشي زیاته کړه دغه فرمان په ډاګه ځرګندوي چي د افغانستان اسلامي امارت هیڅکله تنکي ځوانان په خپلو نظامي لیکوکي نه دي تنظیم کړي او نه یې تنظیموي.

د اسلامي امارت مخالفین دي چي تنکي ځوانان د جګړې جبهو ته لیږي د ملګرو ملتو سازمان د اوسنیو واقعیتونو له په پام کي نیولو پرته په دي ارتباط یو لړ ځرګندوني کړیدي چي دغه ځرګندوني د ملګرو ملتو د سازمان دریځ تر پوښتني لاندي نیسي.

ځکه د افغانستان اسلامي امارت چي د هیواد په سلو کي په څه دپاسه پنځه نوي خاوره کي یې د ظلم ستم او د سلګونو نورو ټولنیزو نابرابریو ټغر ټول کړیدي هیڅکله په دغه شان عمل لاس ندي پوري کړي او په دي اړوند نه د ملګرو ملتو له سازمان او نه له کومي بلي اداري سره اسناد او شواهد شته او نه یې هم وړاندي کړیدي او نه په ځرګ شواهد او اسناد وړاندي کړاي شي.

د همدي دلیل له مخي له ټولو نړیوالو ټولنو څخه زموږ هیله دا ده چي په بشپړه توګه په اسلامي امارت کي په اوسنیو واقعیتونو باندي په پوهیدو سره په مسولانه توګه ځرګندوني وکړي نه دا چي واقعیتونه تحریف او عامه ذهنیتونه ګډود کړي.

د افغانستان په اسلامي امارت کي د اداري قوي مرکزیت شته هغه فرمانونه او لار ښووني چي د اسلامي امارت د محترم مقام لخوا صادریږي له ځنډ پرته د امارتي ارګانونو د چارواکو له خوا د عملي کیدو وړدي.

په همدي دلیل د امارت په نظامي لیکوکي د تنکیو ځوانانو د نه شمولیت او د جګړې جبهو ته د هغوي د نه استولو فرمان په بشپړه توګه عملي شویدي.

ده په پاي کي یادونه وکړه چي د ملګرو ملتو د سازمان دا ډول ځرګندوني په عامه ذهنیت کي دا پوښتنه را پیدا کوي چي ملګري ملتونه د اسلامي امارت د بدنامه کولو او تر فشار لاندي راوستلو په خاطر دا ډول له حقیقت نه لري ځرګندوني کوي او یا هم له ډیري وړي موضوع نه ستره موضوع **جوړوي او د اسلامي امارت پر خلاف تبلیغاتي کمپاین تقویه کوي.**

## اعلامیه وزارت امور خارجه امارت اسلامي افغانستان در ...

زیر سوال بردند این عمل امریکا به هر بهانه که صورت گرفته باشد خلاف تمام موازین قبول شده در روابط بین المللي بود. آیا میتوان در سطح بین المللي دست به عمل تروریستي زد و بعداً نام این کار را مبارزه با تروریزم نهاد؟

چنین به نظر میرسد طراحان سیاست امریکا از اثرات دراز مدت چنین اعمال در سطح بین المللي **غافل اند. در حالیکه این چنین تصامیم خلاف اصول در روابط بین المللي به جاي اینکه مشکلات را کاهش دهد بر عکس موجبات تقویت موج نفرت علیه امریکا را در سطح جهاني فراهم مي آورد.**

**مناطقي که در افغانستان مورد حملات موشکي قرار گرفت در دوران جهاد، امریکا آنها را سنگر هاي دفاع از حریم آزادي میخواند اما با نابودي اتحاد شوروي یکباره** از نظر امریکا مبدل به سنگر هاي تروریستي گردید و هدف موشك هاي کروز قرار گرفت. کاریکه امریکا هرگز نمیتوان آنرا براي ملت ما توجیه نماید.

در حالیکه امریکا در ظاهر خود را هوادار حل صلح آمیز منازعات در سطح بین المللي قلمداد مینماید، در عمل با حمله موشکي بر افغانستان خلاف این ادعاي خود را به اثبات رسانید و ما به این باوریم که هر مشکل را به جاي توسل به زور و نیروي اسلحه میتوان از راه صلح آمیز حل کرد.

ما در سالروز این حمله تروریستي به **کشور ما ضمن تقبیح این عمل به کشور هاي تجاوز گر یك بار دیگر اعلام مینماییم که با چنین اعمال نا عاقبت اندیشانه، اشتباه روسها و انگلیسها در افغانستان را تکرار نکنند.**

### چین دو تبعه امریکایي و استرالیایي را دستگیر نمود

**کشور چین دو تبعه امریکایي و استرالیایي را به اتهام جاسوسي دستگیر کرده است.**

**نطاق وزارت خارجه چین گفت: این افراد به جرم عکس برداري از مناطق ممنوعه دستگیر شده اند و براي انجام فعالیت خود از هیچگونه مرکزي اجازه نداشتند.**

**وي افزود: این افراد به اقدام غیر قانوني خود اعتراف نموده و اداره امنیت عمومي چین به اساس قوانین داخلي آنکشور به جرایم دو تن رسیده گي خواهد کرد.**

### سمندري ناوي ډیر ښکلي او غولونکي موجودات دي

سمندري ناوي ډیر ښکلي او غولونکي موجودات دي چي د ظاهري ښکلا سره سره ډیر پیاوړي زهر لري که چیري د هغوي لشکي د انسان بدن ته داخل شي امکان لري په ممکنو مواردو کي د انسان د مرګ سبب شي د نړي په اوبو کي ددغه ډول ناوو دوه سوه ډوله پیژندل شوي دي دا وړي د نیمایي فصل په رارسیدو او د سختي تودوخي په وخت کي دغه حیوانات د جهان په بیلا بیلو غارو د هغي جملي نه د امریکا په ختیځو غارو کي بیخي زیاتیږي او د هغوي له خوا د لامبوزنو کسانو د چیچلو امکان زیاتیږي ځیني سمندري ناوي کولاي شي په خپلي لشکي سره ډیر پیاوړي حیوان چي سل واري له هغو څخه غټتلي وي له پښو وغورځوي.

دغه ناوي کولاي شي په خپلو لشکو سره د انسان بدن ټوټه ټوټه کړي.

## تصدي سپین زر کندز ...

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر گفت: ظرفیت این تصدي در طول یکسال پروسس چهل هزار تن پخته بوده که بعد از حاکمیت امارت اسلامي در صفحات شمال دستگاه هاي جن و پرس، لینتر، تیل کشي، تصفیه روغن جامد و مایع فعال بوده و **تعمیر این تصدي که در جنگ هاي بي مفهوم تنظیمي رژیم ائتلافي خساره مند گردیده بود بمصرف سه صدو پنجاه ملیون افغاني از بودجه انکشافي امارت اسلامي مجدداً ترمیم و اعمار گردیده است.**

**همچنان در نظر است که دستگاه یخ سازي این تصدي که ظرفیت ششصد کنده یخ را در ۲٤ ساعت دارد در آینده نزدیك فعال گردد و دستگاه صابون سازي در ۲٤ ساعت** چار تن صابون را تولید مي نماید که في کلچه دو صدو پنجاه گرامه آن مبلغ شش هزار افغاني در بازار عرضه میدارد.

همچنان دستگاه تیل کشي این تصدي در یك شبانه روز ده تن روغن را تولید کرده که في کیلوي آن به مبلغ سي هزار افغاني به بازار عرضه میگردد.

موصوف علاوه نمود: تصدي سپین زر کندز اکنون فعالیت هاي صدر در حــــ **تولیدي را داشته و از اثر زحمات و تلاش کارگران این تصدي یکپایه جنراتور بظرفیت ششصد کیلو وات ترمیم و فعال گردیده که انشاء الله در آینده هر چه نزدیك ذریعه آن جریان برق به بازار کندز و نواحي آن تامین گردیده و اهالي آن شهر از نور برق مستفید خواهند شد.**

**محترم رئیس آن تصدي علاوه نمود: از فارم لیموي این تصدي حفاظت کامل بعمل آمده و فارم متذکره منحیث یك منبع مهم عاداتي سالانه ششصد سیر لیمو بدست آورده و ورکشاپ هاي خرادي، ولدنکاري، ریخته گري و بسته کاري و آهنگري این تصدي فعال بوده و در نظر است که دستگاه ترمیم وسایط نقلیه در آن تصدي نیز فعال گردد.**

**موصوف علاوه نمود: سایر ماشین آلات تصدي سپین زر توسط انجنیران و کارگران مجدداً ترمیم و فعال گردیده و با داشتن میدان هاي سپورتي کارگران و پرسونل آن در منازل رهایشي این تصدي زندگي نموده و همچنان شفاخانه پنجاه بستر آن به همکاري مشترك پرسونل طبي وزارت صحت عامه و تصدي متذکره فعال بوده که وقتاً** فوقتاً از صحت و سلامتي پرسونل تصدي سپین زر وارسي صحي بعمل مي آید.

موصوف میگوید: تخم بذري پخته محلوج از نوع هفتاد و پنج، هفده و پانزده اکالاي امریکایي بوده که از شهرت جهاني **برخوردار میباشد.**

## د کنړ ولایت سپین ږیرو ...

**سرښندني او ځان تیریدني سره د اسلامي امارت د واکمني دفاع کوو.**

**په مقابل کي د کونړ محترم والي ددغه ولایت د مجاهدو خلکو د تودو ولولو درناوي وکړ او د اسلامي امارت د ارزښتونو د دفاع په کار کي یې د هغوي د لازیاتو بریالیتوبونو هیله وکړه.**

## د پکتیکا ولایت په ...

علاج لپاره د دارو درملو سربیره ناروغانو ته عینکي او د ضرورت په وخت کي د ناروغانو د سترګو جراحي عملیات هم تر سره کوي.

ټاکل شویده چي د نوموړي موسسي ګرځنده روغتیایي ډلي به د هیواد په مرکز او ولایتونو کي د سترګو د ناروغیو په علاج کي زموږ له هیوادوالو سره مرستي وکړي.

## د کنړ ولایت د مانوکي ...

پیل شوي و په دي وروستیو وختو کي په بریالیتوب سره بشپړ او د ترافیکو د استفادي وړ وګرځید.

دغه سرك چي په سختو غرونو کي د سلو کیلو مترو په اوږدوالي جوړ شوي دي په جوړیدو سره یې له ترانسپورتي پلوه د مانوکي له ولسوالي نه ددغي سیمي د سندرا وکلا کرتر کیلو پوري د خلکو ستونزي او مشکلات لري شویدي.

## د عامې روغتیا وزارت ...

شان کورسونو د جوړولو اهمیت او ارزښت یې ګټور او اغیزمن وباله او د غونډي حاضرینو او د کورس فارغانو ته یې د تني پیري طب بیان کړ.

په دي غونډه کي د عامي روغتیا وزارت معین محترم شیر محمد عباس ستانکزي او د عامي روغتیا وزارت یو شمیر رئیسان او مسؤلین حاضر و.

## سه صدراعظم سابقه ...

پرداخت. در ظرف دو سال اخیر سه صدراعظم از طرف بوریس یلتسین رئیس جمهور روسیه جهت احراز مقام صدارت و رأي دهي به پارلمان روسیه معرفي شده است.

## په روسیه کي یوه ...

لیکني له مخي د ولادیمیر چکش په پخلنځي کي د ډول ډول نژادونو په لسګونو پیشو ګانو دغه غوښې چي د تورو غنمو سره پخي شوي وي خوړلي.

د پولیسو د رپوټ له مخي د پیشو د خوراك په کالي او دغه راز په یخچال کي یې د انسان د غوښې ټوټي پیدا کړي ولادیمیر چکش چي د کانداري یې کوله یې له میرمن **څخه د خپل زوي سره د مسکو د ښار په یو واټ کي په یو کرایي اپارتمان کي ژوند کاوه.**

## د تورخم او د هیواد ...

فعالیدو سره د هیواد د ولایتونو او د پاکستان د اسلامي جمهوریت تر منځ په پوستي راکړه ورکړه کي زیاتي اسانتیاوي برابري شویدي او د هیواد له ولایتونو سره تیلفوني او تلګرافي ارتباط تامین شویدي.

ددغه سیستم د پرانستلو په مراسمو کي د ننګرهار ولایت د مخابراتو رئیس محترم مولوي نعمت الله نعماني او یو شمیر نور چارواکي او د مخابراتو وزارت انجنیران حاضر و.

## نظام تعلیم و تربیه ...

قسم سپر استعمال مینماید محکوم نموده و جامعه جهاني را به وضع نابسامان مردم بیچاره آن مناطق متوجه ساخته و به خاطر نجات اهالي آن مناطق از شر و ظلم ملیشه ها **سردمداران ملیشه ها را مجبور سازند، تا بیشتر از این به مظالم خود ادامه نداده و بگذارند تا ملت مؤمن و برادر افغانستان تحت لواي سعادت آفرین امارت اسلامي افغانستان به زندگي آرام و آبرومند خویش ادامه دهند.**

| د ګډون بیه له هیواد نه بهر | | |
|---|---|---|
| ملك | شپږ میاشتنی | کلنی |
| پاکستان | RS200 | RS400 |
| دخلیج هیوادونه | SR.150 | SR.300 |
| اروپا او امریکا | US$75 | US$150 |

## تبصره

## «تاجم نمیدهي تیغم به سر مزن»

دفاع از حقوق اطفال و حمایه صحت و حیات آنان بنا بر اهمیت خاصي که موجودیت نسل نوین سالم و صحتمند براي فرداي جامعه انساني دارد از چندي بدینسو مورد توجه بعضي از حلقات به سطح کشور ها و جهان واقع گردیده و گاهگاهي تظاهرات سازمانهاي مذکور بمنظور دفاع از حقوق اطفال در بعضي از کشورها خصوصاً هندوستان براه افتاده و آنهائیرا که این گلدسته هاي لطیف را مورد تحقیر، زجر و آزار قرار میدهند به باد انتقاد گرفته است.

سازمان ملل متحد نیز در این راستا اداره یي بنام یونیسف را در تشکیلات خود گنجانیده و مطابق پالیسي این اداره، مسایل مربوط به صحت، حفظ حیات و تقویه جسمي و فکري اطفال سراسر جهان از مسؤولیت هاي اداره مذکور شمرده مي شود اگر بوجه احسن نگریسته شود و قضاوت عادلانه صورت گیرد واضح است که قبل از تاسیس امارت اسلامي افغانستان، در دوران زمامداري رژیم کمونیستي و متعاقب آن در دوره ائتلافي رباني اطفال افغانستان مصایب زیادي را متحمل گشتند، جنگ هاي خانمانسوز دوره رباني و حملات وحشیانه ارتش سرخ و ایادي آنها در آوان رژیم خلق و پرچم یك تغیر کاملاً منفي را در حیات اطفال کشور عزیز ما بمیان آورده و از هر حیث آنان را متضرر ساخته است. در دوران کمونیست ها آبادي هاي تقریباً ۲۲۸ ولسوالي کشور به ویرانه مبدل گردیده که ویراني مکاتب و مدارس، منازل، باغها و زمین هاي زراعتي شامل آن بود و در نتیجه آن بیشتر از شش ملیون تن از هموطنان ما به هجرت مجبور گردیدند که اطفال مهاجرین مذکور از جهات صحت، تعلیم و تربیه، اقتصاد و امنیت محرومیت هاي بي شماري را متحمل گردیده همچنان در نتیجه حملات دشمن اکثریت فامیل ها متکفلین خویش را از دست داده و اطفال بیچاره آنها مسؤولیت کفالت فامیل را متقبل گردیده و یا هم به تعداد زیاد اطفال بصورت مستقیم شهید، معیوب، معلول یا از نعمت علم و دانش محروم گردیده اند. همچنان در زمان حکمراني رباني بنا بر جنگ هاي ذات البیني ائتلافیون باز هم اطفال افغان به مصایبي روبرو گردیدند که قلم از ذکر هر واقعه آن عاجز است و فقط با یاد آوري از مصروفیت هاي اطفال با جمع آوري استخوان هاي مرده ها و خرید و فروش آن جهت تأمین معیشت توسط اطفال کافي است تا انسان فکر کند که اطفال معصوم کشور ما در آن زمانه ها چه حالتي داشتند، و چه بالاي شان میگذشت؟! چه ماند به آنکه در پسته هاي نظامي بالاي اطفال افغان چه روا مي داشتند!! همه جهانیان شاهد اند که بعد از حاکمیت امارت اسلامي در کشور صلح و آرامش و امنیت کامل همه جا را فرا گرفت حقوق شرعي همه افراد ملت اعم از زن، مرد و اطفال به آنها اعاده گردیده و زمینه کار و تلاش براي بهبود وضع زندگي مردم در ساحات صحي، اقتصادي، اجتماعي و فرهنگي در کشور مساعد گردید

اطفال افغانستان از حمایت و نوازش مستقیم امارت اسلامي افغانستان بهره مند گردیده و با قطع جنگ و راکت پراگني زمینه آرام کسب تعلیم و تربیه براي شان مهیا گردیده، فشار هاي روحي آنان که زاده جنگ هاي مصیبت زا بود رفع شده و سهولت هاي اساسي صحي در اختیار همه مردم خصوصاً اطفال قرار داده شد که تطبیق عملي کمپاین هاي متواتر واکسین بصورت منظم در ساحه تحت حاکمیت امارت اسلامي افغانستان گویاي واضح این حقیقت است. از این هم یك قدم جلو تر گذاشته شد و بنا بر هدایت خاص عالیقدر امیر المؤمنین استخدام نوجوانان و اطفال در قرارگاه هاي نظامي امنیتي ممنوع قرار داده شده و طي چند سال اخیر یك کمیسیون با صلاحیت در چوکات امارت اسلامي افغانستان مسؤولیت امر حقیر اخراج نوجوانان و اطفال را از تشکیلات نظامي و امنیتي و ملکي به عهده گرفته و تا حال مصروف خدمت است و نتایج کار شان نیز بر همگان هویداست که چند فیصد مثبت بوده و صفوف اردوي اسلامي و نیرو هاي امنیتي کشور از وجود نوجوانان و اطفال خورد سن تصفیه گردیده است. اما افسوس و صد افسوس که بعضي از جهانیان باز هم به حقایق قبلي و موجود در افغانستان هیچ توجه نکرده و صرف بمنظور خوشنودي این و آن سخناني بر زبان مي رانند که نه تنها به حقایق در تضاد بوده بلکه حیثیت خود شان را نیز لکه دار مي سازد، خصوصاً در این مورد اظهارات اخیر آقاي ارسلانت مسؤول بخش افغانستان در اداره یونیسف که امارت اسلامي افغانستان را به استخدام اطفال و نوجوانان در امورات نظامي متهم ساخته خیلي تعجب آور است. به آقاي ارسلانت که نماینده یك مؤسسه خیریه و بیطرف بین المللي است لازم نبود تا خلاف حقایق، چیزي را اظهار نماید که حتي به حیثیت بیطرفي اداره مربوط وي نیز لطمه وارد نموده و موقف خیر خواهانه و بیطرفانه موسسه اش را مورد سؤال قرار دهد. لازم بود تا در پرتو حقایق موجود در افغانستان وضع فعلي اطفال افغانستان. آقاي ارسلانت عوض آنکه همچو مخالفین، امارت اسلامي را به این و آن متهم نماید به حل مشکلات اطفال افغانستان توجه بیشتر مینمود و در این راه مسؤولیت خویش را اداء مي ساخت، اگر آقاي ارسلانت در موقفي قرار میداشت که همه مشکلات و ضرورت اساسي اطفال افغانستان را مرفوع ساخته بود، باز ممکن بود تا در مورد نادیدني ها نیز اظهار نظر نماید. اما اکنون که موصوف در قبال بهتر شدن وضع اطفال افغان هیچکدام قدم مثمري به پیش نه گذاشته و همه مشکلات را به امارت اسلامي افغانستان سپرده است، خیلي نا مناسب است که موصوف کلامي بر زبان راند که ساخته مخالفین امارت اسلامي و **دشمنان افغانستان است، لازم است تا آقاي ارسلانت مسؤولیت قانوني خویش را محترم شمرده و در راه ایفاي آن توجه لازم مبذول نموده و بر خلاف پالیسي و پروگرام اداره مربوطه خویش از آفاق و اکناف سخن نه رانده و اگر موصوف را توان خیرو کمك با اطفال معصوم افغان نیست بهتر است تا خاموش نشسته و از پرخاشگري خویش ما را در امان نگهداشته و به گفته شاعري: «تاجم نمیدهي تیغم به سر مزن» با اظهارات غیر واقعبینانه خویش، مشکلات جدیدي را در راه پیشرفت کاروان صلح امارت اسلامي افغانستان به وجود نیاورد.**

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Editor: Malyar Kakal
Printed by: Daulati Printing Press